# قُلِ اللهُمَّ اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي، وَاذْكُرْ بِالْهُدَى هِدَايَتَكَ الطَّرِيقَ، وَالسَّدَادِ سَدَادَ السَّهْمِ». «ووايه! اې الله! ماته هدايت وکړه او توفيق راکړه، او په هدايت سره د لارې د ښودلو يادونه وکړه، او په توفيق سره د غشي پر ځای د لګېدلو يادونه وکړه

له علي رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «قُلِ اللهُمَّ اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي، وَاذْكُرْ بِالْهُدَى هِدَايَتَكَ الطَّرِيقَ، وَالسَّدَادِ سَدَادَ السَّهْمِ». «ووايه! اې الله! ماته هدايت وکړه او توفيق راکړه، او په هدايت سره د لارې د ښودلو يادونه وکړه، او په توفيق سره د غشي پر ځای د لګېدلو يادونه وکړه».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم على بن ابی طالب رضي الله عنه ته امر وکړ چې د الله تعالی څخه (په دې الفاظو) دعا وغواړي او ووايي: (اللهم اهدني) یا الله ماته هدایت وکړې او لار راوښیې (وسددني) او توفيق او په ټولو چارو کې استقامت راکړې. هدايت: په تفصيل او اجمال سره د حق پیژندل او په ظاهر او باطن کې د هغه پیرو کولو ته وايي. او سداد (توفيق): په ټولو چارو کې کاميابي او استقامت دی، يعنې هغه څه چې سم او پر حقه وي، او دا په وينا، عمل او عقيده کې نېغه لار ده. او ځکه چې معنوي چاره په احساس سره روښانه کيږي، نو په داسې حال کې چې ته دا دعا کوې، دا راپه زړه کړه چې: (هدايت: تاته لارښوونه ده) نو په زړه کې داسې راوله چې ته د داسې يو چا په څېر لارښوونه غواړې لکه چې مسافر وي، ځکه چې هغه له سمې لارې څخه نښي او چپ طرف ته نه وځي، تر څو د لارورک څخه بچ شي؛ او په همدې توګه خونديتوب تر لاسه کوي او ژر تر ژره خپل هدف ته رسيږي. (او موفقيت لکه: د غشي لربدل) ته ګورې چې کله غشی ولې خومره په تېز سره خپل هدف ته رسيږي، نو ويشتونکی چې کله هدف ولي، غشی د هدف لورې ته سموي، نو همدا رنګه ته هم د الله تعالی څخه سوال کوې چې د کوم هدف نيت لرې چې د غشي په څېر دې ورسيخ کړي؛ نو ته به په سوال کولو کې هدايت ته د رسېدو غوښتونکی يې چې تر پای دې مقصد ته ورسوي. نو دا معنا دې را په زړه کړه، تر څو د الله تعالی څخه هدف ته د رسېدو سوال په داسې ښه وکړې لکه څنګه چې غشی د مقصد په لور ولې چې هدف ته ورسېږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5915